**Paschto**

Akram Malakzay

# Großes Wörterbuch Deutsch–Paschto

BUSKE

# GROSSES WÖRTERBUCH
# DEUTSCH–PASCHTO

von

Akram Malakzay

unter Mitwirkung von

David Neil MacKenzie (†)

BUSKE

# Inhaltsverzeichnis

Geleitwort des Herausgebers ........ V
Vorwort/Einleitung (Paschto) ........ VI
Vorwort (Deutsch) ........ XIV
Abkürzungen ........ XV
Bibliographie ........ XV
Wörterverzeichnis Deutsch–Paschto ........ 1

Bibliografische Information der Deutschen Nationalbibliothek
Die Deutsche Nationalbibliothek verzeichnet diese Publikation in der Deutschen Nationalbibliografie; detaillierte bibliografische Daten sind im Internet über ‹https://portal.dnb.de› abrufbar.

ISBN 978-3-87548-516-5

2. Auflage 2016

Die erste Auflage ist als Band 6 der Reihe „Lexicographica Orientalis“, herausgegeben von Jost Gippert, erschienen.

© 2016 Helmut Buske Verlag GmbH, Hamburg. Alle Rechte vorbehalten. Dies gilt auch für Vervielfältigungen, Übertragungen, Mikroverfilmungen und die Einspeicherung und Verarbeitung in elektronischen Systemen, soweit es nicht §§ 53 und 54 UrhG ausdrücklich gestatten.
Umschlaggestaltung: QART Büro für Gestaltung, Hamburg. Druck und Bindung: Totem, Inowrocław. Printed in Poland.

## Geleitwort des Herausgebers

Mit dem vorliegenden Werk, Resultat des langjährigen, aufopferungsvollen persönlichen Einsatzes von Dr. med. Akram Malakzay, veröffentlicht der Helmut Buske Verlag das erste große Deutsch-Paschto-Wörterbuch. Nachdem der Wortschatz des in Afghanistan als Staatssprache fungierenden Paschto bisher im Wesentlichen nur für englisch- und russischsprachige Interessierte erschlossen war, verfügt nun auch die deutschsprachige Leserschaft über ein Nachschlagewerk, das ihr den Zugang zu der als schwierig geltenden ostiranischen Sprache in zuverlässiger und wissenschaftlich abgesicherter Weise ermöglicht. Das Werk richtet sich gleichwohl nicht nur an Iranisten und andere Fachkreise, sondern ist zugleich auch für eine breite Allgemeinheit, sowohl in Europa wie in Afghanistan und Pakistan, bestimmt.

Das Wörterbuch hat ganz wesentlich von der Betreuung profitiert, die Herr Malakzay in den Anfängen seiner Arbeit durch den im Jahre 2001 plötzlich und unerwartet verstorbenen Iranisten David Neil MacKenzie erfahren hat. Es ist mehr als bedauerlich, dass MacKenzie das Erscheinen des vorliegenden Werks nicht mehr erleben durfte und wir dem hochgeschätzten Kollegen für seinen Einsatz nur noch postum danken können.

Dass das Wörterbuch eine Bearbeitungszeit von mehr als 20 Jahren erforderte, ist vor allem auf die widrigen Umstände zurückzuführen, die Herr Malakzay in seinem Vorwort ausführlich beschreibt. Es ist in der Tat so – und viele von uns haben es leidig erfahren –, dass die Computertechnologie im Hinblick auf ökonomisch weniger „relevante“ Sprachen nur sehr schleppend und mit vielen Umwegen einen Stand erreicht hat, mit dem es möglich wurde, den komplexen Satz eines zweisprachigen Wörterbuchs mit latein- und arabischschriftlichen Materialien einschließlich der zahlreichen für das Paschto erforderlichen Zusatzzeichen auf einem PC zu bewerkstelligen. Wir sind Herrn Malakzay zu tiefstem Dank verpflichtet, dass er angesichts der immer wieder auftretenden Katastrophen nicht aufgegeben, sondern sein Werk beharrlich zu Ende geführt und dabei ebenso beharrlich immer weiter aktualisiert hat.

Frankfurt, im März 2009 Jost Gippert

# سریزه

محبت اول اسانه پۀ نظر راغی     پۀآخر کې مې نصیب خون جګر راغی

کله چې د ښوونځي په دوره کې زۀ پۀ کابل کې پۀ اماني لیسه کې وم، هغه وخت دا لیسه د نجات لیسې پۀ نامۀ یادېدله، پۀ ۱۱ او ۱۲ ټولګي کې زمونږ ټول ساینسي مضامین پۀ آلماني ژبه وو. د آلماني ژبې زده کول هغه وخت اسان نۀ وو. هغه مهال نۀ یوه جرمني - پښتو کشنري موجوده وه او نۀ کوم پۀ پښتو تشریح شوی آلماني ګرامر. یوازینۍ استفاده د یو آلماني – ایراني کتاب نه کېدی شوه چې ډېر لغات به یکې غلط وو او یا به د افغانستان پۀ فارسي ورته بل څۀ ویل کېدل. نو د دې سختۍ پۀ وجه ما د ځانه سره تصمیم ونیو چې هر کله چې زما آلماني ژبه زده شوه نو زۀ به پۀ خپله ژبه یوه ډکشنري ولیکم. پۀ کال ۱۹۷۶ (ع) چې مې د جرمني پۀ *München* ښار کې د آلماني ژبې او ادبیاتو ډیپلوم واخیست، نو د ډکشنرۍ د لیکلو پۀ فکر شوم. خو لنډ وخت وروسته مې د طب پۀ تحصیل پیل وکړو. پۀ دې چې ما د طب د تحصیل دپاره بورس نۀ درلود نو کله به مې تحصیل کاوۀ او کله به مې کار. د ۱۹۸۶ (ع) پۀ پای کې زما د طب تحصیل پای ته ورسېد. دا ځل مې پۀ ټینګه نیت وکړو چې مخکې د دې نه چې پخپل مسلك کې پۀ کار پیل وکړم نو باید یوه جرمني - پښتو ډکشنري ولیکم. دې هدف دپاره مې د *Duden 10, Bedeutungswörterbuch* کتاب راواخیست او د یو کال په موده کې ټوله ژباړه پای ته ورسېدله. لوستونکو ته دا سوال پیداکیږي چې نو ولې دا کتاب دومره ډېر کلونه ناچاپه پاتې شو؟ د بده مرغه د کتاب د چاپولو دپاره داسې ستونځې راپۀ مخه شوې چې هیڅ تصور مې نشو کولی. لومړنۍ مایوسي دا وه چې په جرمني کې د پښتو ټایپ ماشین هیڅ پیدا نشو. په هیواد کې د جګړې شرایط وو او د هغه وخت حکومت اجازه نه ورکوله چې د هیواد نه بهر ته یو د پښتو د ټایپ ماشین ولیږل شي. نو پۀ دې وجه د دې کتاب چاپ پاتې شو. مجبوراً ما خپل مسلك ته مخه کړه . کله چې پخپل مسلك کې مې د *Landarzt* یا د کلي ډاکټر پۀ حېث وظیفه پۀ غاړه واخیستله، نو د کلي ډاکټر باید ۲۴ ساعته خپلو رنځورانو ته حاضر وي. هغه وخت د یو پښتو کمپیوټري پروګرام نه چې پۀ امریکه کې جوړ شوی و، خبر شوم. سمدلاسه مې دا پروګرام راوغوښت. د کلي د ډاکټر پۀ توګه زما مسلکي مصروفیت دومره ډېر و چې ماښام د لس او دولس بجو ترمینځ به راته د ډکشنرۍ د لیکلو موقع راپیداشوه، هغه هم پۀ دې شرط چې د کوم عاجل رنځور له خوا راته ټېلفون نه وای شوی. نو پۀ دې لږ وخت کې ما د ډکشنرۍ لیکلو ته نیت وکړو. د ۱۹۹۵ پۀ پای کې دا کتاب پۀ کمپیوټر تر پایه پورې ولیکل شو. کله چې د چاپ تصمیم مې ونیو نو برتانوي پروفیسر MacKenzie چې د المان د Göttingen په پوهنتون کې یې د پښتو درس ورکاوه او ما سره یې په ډکشنرۍ کې همکاري کوله راته مشوره راکړه چې ښه به دا وي چې دا په ډېره لوړه سویه لیکل شوي ډکشنري د Nadeldruckerیا د ستنیز چاپوونکي په ځای په Laserdrucker چاپ شي چې ښکلې ښکاره شي. هغه ژمنه وکړه د دې نوي چاپوونکي پروګرام به راته راوغواړي. نو د دې هدف لپاره Prof. MacKenzie چې په دې وخت کې یې خپل تقاعد اخیستی و او خپل هیواد برتانیا ته تللی و، یو ماښام زما کور ته راغی او تر نیمې شپې پورې یې په کمپیوټر کې کار وکړو او ما ته یې مبارکي راکړه چې اوس نو ډکشنري چاپېدی شي. کله چې پروفیسر MacKenzie بېرته برتانیا ته ستون شو او ما د ډکشنرۍ په چاپولو پیل وکړو، ځینې غلطۍ مې ولیدې چې کمپیوټر د یو توري په ځای بل څه لیکل. Prof. MacKenzie راته وعده وکړه چې په لنډه موده کې به بېرته جرمني ته راشي او دا غلطي به اصلاح کړي. د بده مرغه لنډ وخت وروسته Prof. MacKenzie په حق ورسېد. په دې وجه د کتاب د چاپولو کار تر نامعلوم وخت پورې پاتې شو ځکه چې دغه پروګرام یعنې Multilingual Scolar زوړ شوی و او چا یې نور د اخیستلو پوښتنه نکوله. دوه کاله

دمخه یوه کمپنۍ پیدا شوه چې هغې راته د ډېرو پیسو په بدل کې یو پروګرام راکړو چې د Multilingual Scolar لیکنې په Word Perfekt پروګرام کې ولوستل شي. نو په دې وجه د فرنکفورت د پوهنتون یو همکار دا پروګرام په Word Perfekt واړوه. په دې پروګرام که څه دا ډکشنري د لوستلو وړ وګرځېدله خو ټولې جملې یې ګډې وډې شوې وې چې بیا دسره اصلاح کولو ته ضرورت و. د بده مرغه چې اصلاحات ځای په ځای په Monitor کې نه لیدل کېدل بلکه په چاپ کې لیدل کېدل، نو نتیجه دا چې د کتاب د اصلاح کولو په نیمايي برخه کې حوصله خلاصه شوه او کتاب په همغه ډول پاتې شو. ډېره موده وروسته بیا خبر شوم چې یو بل پروګرام پیدا شوی چې هغه هر پروګرام konvertieren کوی شي . کله چې دا پروګرام مې لاس ته راغی، البته بیا د ډېر لګښت په بدل کې، نو د دې پروګرام د Konvertierung لپاره زما مشر ورور ډاکټر رشیدالدین ملکزي راسره ډېره مرسته وکړه او د هغه په مرسته دا لاره راپیدا شوه چې دا ډکشنري د Wordپه یو موډرن پروګرام ولیکل شي. د بده مرغه چې د بدلولو منفي اړخ دا و چې ټولې جملې یې بیا ګډې وډې شوې. د اصلاح کولو لپاره یې د یوې پاڼې لپاره لږ تر لږه یو ساعت وخت په کار و. د وخت د لږوالي په وجه په ۲۰۰۷ کال کې د دې ډکشنري ګډې وډې جملې ټولې ببرته سمې شوې.
په عین وخت کې نور لغات د Duden Universalwörterbuch او نورو منابعو نه پکې ورزیات کړی شول.
هومره تکلیف چې د چاپ د ستونځو له پلوه ما ولید نو لږ کسان یې تصور کوی شي. په دې برخه کې خپلې خبرې د غزل د بابا، د حمزه شینواري په دې شعر پای ته رسوم چې وایي :

ستا په اننګو کې د حمزه د وینو ســـــره دي
ته شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړم

# د لغاتو غوره کوونه او تشریح

پۀ دې قاموس کې هڅه شوېده چې نه یوازې د یو آلماني لغت دپاره معادل پښتو لغت ولیکل شي بلکه که چېرته د معادل لغت پوهېدل سخت وي نو بیا همغه پښتو لغت په پښتو تشریح شویدی. د جرمني لغت د لاپسې ښۀ پوهېدلو او په جملو کې د استعمالولو دپاره تشریحي مثالونه راوړل شویدي. بل دا چې د یو لغت دپاره نور مترادف پښتو لغات او حتی سیمه ایز لغتونه هم ذکر شویدي، د مترادف نه پرته متضاد لغت هم پکې لیکل شویدی. ځینې لغات چې د هغوی کورنۍ لوېه ده د هغې لغت کورنۍ نه نور ډولونه یې هم یاد شویدي، لکه د آس لغت: آس *das Pferd*، نرآس *der Hengst*، اسپه *die Stute*، سپین آس یا نیلی *der Schimmel* ، تور آس یا سکاڼ *der Rappe* او داسې نور). په دې چې هر څوك په پښتو کې د نیلي یا د سکاڼ په مانا نه پوهیږي نو د دې لغاتو په څنګ کې ورته تشریح یې هم لیکل شوې ده یعنې سکاڼ یا تور آس.
●همدا شان پۀآلماني لغاتو کې هڅه شوې ده چې مترادف لغات ورسره ولیکل شي لکه
[ **zuweilen** = *manchmal, ab und zu, gelegentlich*]
د ځینو لغاتو متضاد لغات ورسره لیکل شوي دي لکه د [ *sowohl ... als auch*- هم دا او هم دا] متضاد [ *weder ... noch* نۀ دا او نۀ دا] هم لیکل شویدی. هغه لغات چې په پښتو کې ډېر معمول ندي نو د هغوي مآخذ پۀ قوس کې لیکل شویدی لکه *Schubkarre* کراچۍ، رچګاډی [افغان قاموس]. د طبي لغاتو دپاره که چېرته لاتیني لغت وي نو پۀ څنګ کې یې آلماني لغت لیکل شوی او یا برعکس لکه *Mittelohrentzündung = Otitis media* یعنې د غوږو التهاب. هغه طبي لغات چې ورته معادل لغت پۀ پښتو کې نشته او یا پوهېدل یې ډېر ګران دي هغه تشریح شویدي لکه *Q-Fieber*.

د ځينو کيمياوي لغاتو جوړښت پهٔ قوس کې ليکل شويدی لکه: مورفين **Mọrphin**, das; -s *($C_{17}H_{19}O_5N + H_2O$)*
اصطلاحات او متلونه پهٔ *Kursivschrift* يا پهٔ *کږو تورو* ليکل شوي دي.

# د الماني تورو تلفظ

د ځينو الماني غږلرونکو تورو لاندې يا ټکی او يا ښوه کرښه ليکل شوې ده. د ټکي هدف دا دی چې دا توری ډېر لنډ لوستل کيږي لکه *lạchen* ، دلته *ạ* په دې چې لاندې يې يو ټکی دی بايد ډېر لنډ ولوستل شي. د کرښې نه هدف د دې توري د اوږد لوستل دي لکه *sa̱gen* ، دلته *a̱* په دې چې لاندې يې کرښه ده اوږد لوستل کيږي.

R په الماني ژبه کې په سلو 70 کسان ® د (غ) په تلفظ لولي او 30 په سلو کې د (ر) په تلفظ .د (غ) په تلفظ چې په الماني ژبه کې ورته [ʁ̠] *(Zäpfchen-R)*[uvularer] وايي زياتره د جرمني په شمال او مينځنۍ برخه کې مروج دی. د (ر) په تلفظ چې په الماني کې ورته [r] -Zungenspitzlaut „gerollter“ [alveolarer] د المان په جنوبي برخه او په اتريش کې مروج دی. په عمومي توګه ويل کېدی شي چې ځوانان زياتره R په (غ) تلفظوي او ډېر لږ زاړه خلك په (ر). د (ر) تلفظ ورځ په ورځ له مينځه ځي.

CH د پښتو (ښ) په ډول لوستل کيږي.

Z د پښتو د (څ) سره په عين تلفظ لوستل کيږي.

ß معادل دی د (SS) سره

Ä معادل دی د پښتو (ئ) سره لکه سړئ ، زمرئ

E معادل دی د پښتو (ې) سره

EI معادل دی د پښتو (ۍ) سره

ER د يو لغت په آخر کې د (ه) په توګه لوستل کيږي، لکه: Fischer (تلفظ : في شه) يعني کب نيوونکی

د (Ö, Ü, Y) ته په پښتو کې کوم معادل توری او يا معادل تلفظ نشته، په الماني کې (Ü) او (Y) په عين تلفظ لوستل کيږي.

هغه الماني لغات چې د بلې ژبې نه اخيستل شوي او تلفظ يې بالکل بل شان دی د هغې تلفظ په پښتو تورو ليکل شويدی لکه *Aubergine* : تلفظ : اوبه ژينې. دلته *(g)* پهٔ (ګ) نه بلکه پهٔ (ژ) لوستل کيږي. او يا د Zivilcourage لغت تلفظ يې (څي فيل کوغاژ) دی.

# د پښتو د تورو تلفظ

(ۀ) دا توری لا د پښتو د اکاډمۍ له خوا په رسميت پېژندل شوی ندی، خو د پښتو څېړنوال نړيوال مرکز په پښتو - پښتو سيند (ليکوال عبدالقيوم زاهد مشوانی) کې دا توری کارولی دی او تلفظ يې د (ه) سره داسې توپير لري:
يوه ښځه وايي: زه (ۀ) ښه (ه) يم. يو سړی وايي: زۀ (ۀ) ښۀ (ۀ) يم. بل مثال: هغه ښځه زړه (ه) ده. دا زما زړۀ (ۀ) يعنې قلب دی. شپه (ه) تېره (ه) شوه (ه)، دا چاقو تېرۀ (ۀ) دی. نو په دې ډکشنرۍ کې دا نوی توری تر ډېره حده پورې مراعات شوی دی.

و لکه: د کابل ښار پخوا وړوکی و.

وو لکه: کابل او کندهار د ښکلا نه ډك ښارونه وو.

وو لکه: جناېتکار *بوورل* شو. *ښوونکی ښوونځي* ته ولاړ

ی د تلفظ لهٔ نظره د (ی) تلفظ پهٔ دودی (اسم) او پهٔ راځی (فعل) کې بو شان دی، نو د اسم لیکل پهٔ (ی) او د فعل لیکل پهٔ (ئ) زما پهٔ اند د لوستونکو او لیکونکو- پهٔ تېره د غېر پښتني وګړو- مشکلات زیاتوي. نو ما پخپل قاموس کې دا تلفظ چې د الماني EI سره معادل دی د اسم او فعل لپاره په یو شان لیکلی دی او د راتلونکي لپاره ښه به دا وي چې یو غږ یا تلفظ په عین توري ولیکل شي او نه په دوه مختلفو تورو.

پهٔ دې ډکشنری کې هڅه شوې چې د "پښتو - پښتو تشریحي قاموس"، د کابل چاپ ۱۹۷۸- ۱۹۷۹، مراعات وشي. کوم لیکدود چې توپیر لري هغه د یو (و) او دوه (وو) لیکدود دی. پهٔ پښتو - پښتو قاموس کې د مثال پهٔ توګه ″ښوول″ پهٔ دوه (وو) لیکل شوی دی. نو ځکه ″ښوونه″ هم پهٔ دوه (وو). د بده مرغه د یو مصدر نه د یو اسم پهٔ جوړولو کې کله دا مراعات شوی او کله نهٔ. د بېلګې پهٔ توګه ″سمبالول″ پهٔ پښتو - پښتو قاموس کې پهٔ یو (و) لیکل شوي دي- ″سمبالوونکی″ پهٔ دوه (وو) لیکل شوی دی او ″سمبالونه″ بیا پهٔ یو (و). ما پخپل قاموس کې د دې لیکدود نه سرغړونه کړېده او ″سمبالونه″ پهٔ دوه (وو) لیکلې ده، لکه *Umrüstung* = سمبالوونه. که چېرته دا لیکدود صحیح نه وي نو د پښتو ادیبان او د پښتو - پښتو قاموس لیکوالان دې دا سرغړونه راوبښي .

●د الماني (sein) لغت لپاره چې په انګلیسي کې ورته (to be) او په فارسي کې ورته (بودن) وایي، د (اوسېدل) لغت کارول شوی دی.

# مفرد، جمع، حال، ماضي، د یو لغت څهٔ والی

د هر لغت پهٔ څنګ کې که اسم وي د هغه *Artikel* یعنې د هغه د جنسیت څرګندوونکی *der, die, das* لیکل شویدی او بیا یې پهٔ څنګ کې جمع لیکل شوېده لکه *Buch, das; -"er* دلته د *"er*- نه مطلب دا دی چې د *Buch* سره پهٔ جمع کې *er*- یوځای کیږي او د *u* پهٔ سر دوه ټکی (″) لیکل کیږي یعنې د (*u*) نه (*ü*) جوړیږي. هغه لغات چې جمع نلري نو پهٔ څنګ کې یې لیکل شوي:

*kein Plur.* ، یعنې جمع نلري، مثال: بدي، بدوالی **Ü̲bel**, das, *kein Plur.*

هغه لغات چې (*Genitiv*) او جمع یې بې قاعده دي د هغوی (*Genitiv*) او جمع یې پهٔ څنګ کې لیکل شوېده. مثال:

**Beạmte**, der, des Beamten, die Beamten, ein Beamter, viele Beamte

د هر مصدر پهٔ څنګ کې اوس (حال) او تېروخت (ماضي) لیکل شویدی. لکه *gehen* = تلل. زه ځم *ich gehe* ، زه ولاړم *ich ging* ، او یا *ich bin gegangen*.

د ګرامر پهٔ لحاظ مطلقه ماضي ته پهٔ آلماني کې د *Imperfekt* یا Präteritum کلمه او د لنډې یا نژدې ماضي دپاره د *Perfekt* کلمه کارول کیږي. د مثال پهٔ توګه: *essen* → *aß* = Präteritum, *er hat gegessen* = Perfekt

پهٔ پښتو کې د آلماني د لنډې ماضي یا *Perfekt* پهٔ ځای مطلقه ماضي یا *Imperfekt* استعمالیږي، لکه Was hat er gesagt?. دا لیکه پهٔ پښتو کې " هغهٔ څهٔ ووېل" پهٔ توګه کارول کیږي؛ که څهٔ هم د دې جملې تحت اللفظي ژباړه " هغهٔ څهٔ وېلي دي" ده.

● د هر لغت پهٔ څنګ کې د هغهٔ د څه شي والي (تعریف) دپاره یوه نښه لیکل شوېده. د اسم دپاره پهٔ قوس کې د هغه *Artikel* یعنې *(der, die, das)* ، د مصدر دپاره پهٔ قوس کې *(tr./itr./sich)* لیکل شوي دي.

(*tr.*) د (*transitiv*) لنډون دی. مطلب دا چې د دې مصدر نه رااخیستل شوی فعل د *Akkusativ* مفعول دپاره ضرورت لري او پهٔ پښتو کې د فعل متعدي حالت سره سمون خوري. (*itr.*) د (*intransitiv*) لنډون دی، یعنې دا لغت د *Nominativativ, Genitiv, Dativ* سره استعمالیږي، مفعول ته ضرورت نهٔ لري او پهٔ پښتو کې د فعل لازمي حالت سره سمون خوري. *(tr./sich)* د فعل هغه حالت دی چې د پښتو ژبې پهٔ مفهوم د فعل دواړه حالته، متعدي او لازمي، دواړه پکې راځي، د مثال پهٔ توګه:

**auflockern**, er lockerte auf, hat aufgelockert *(tr./sich)* ۱- پستول، نرمول (متعدي)۲- نری کېدل، کمېدل (لازمي)

1. *(tr.)* Er lockerte den Boden auf, damit der Regen gut eindringen kann. هغهٔ مځکه د دې دپاره پسته کړه چې د

باران اوبهٔ ورته پهٔ ښه وجه ورشي
2. *(sich)* Die Wolkendecke lockerte sich auf. وريځ کمه (لږه) شــوه
● د اسم د ځرنګوالي (صفت) دپاره *(Adj.= Adjektiv)*، د فعل د ځرنګوالي (قيد) دپاره *(Adv. = Adverb)* ليکل شويدی.
● د اصطلاحي لغاتو دپاره پهٔ قوس کې ( *ugs.*) ليکل شويدي.
● کله چې يو آلماني لغت يا يوې جملې دپاره ډېرې ماناوې يا مترادفې ماناوې ليکل شوي دي ، يو د بل نه د (،) پهٔ واسطه بېل شويدي. څنګه چې يوه پښتو ليکه هم د مبتدا او خبر (Subjekt und Prädikat) څخه جوړه ده نو د ليکې دواړه برخې يو د بل نه هم پهٔ (،) بېل شوي دي لکه :
Keiner geht nach Hause, bevor nicht die Arbeit beendet ist. تر هغه پورې چې کار خلاص شوی ندی، هيڅ څوک کور ته د تګ حق نه لري.

# د اصلي لغاتو ليکل، د لغاتو لنډون

اصلي لغات پهٔ نسبتاً غټ ليك او د جملو پهٔ مقايسه پهٔ زيات تور رنګ ليکل شوي دي. کله چې بيا دا لغات پهٔ جملو کې تکرار شي نو د دې دپاره چې ډېر ځای ونهٔ نيسي نو يوازې د لغت لومړی توری ليکل شوی دی. مثال: حقيقت، واقعيت **Wahrheit**, die
دا حقيقت دی .Das ist die W ؛ دلته د Wahrheit پهٔ ځای پهٔ لنډ ډول ( .W) ليکل شويدي.

# د لغاتو تاکنه

هڅه شوې چې پهٔ دې ډکشنرۍ کې هغه لغاتو ته ځای ورکړل شي چې ډېر ضرور دي. د دوه لغاتو نه جوړ شوو لغاتو يعنې ترکيبي لغاتو چې مانا يې د دواړو لغاتو د يوځای کولو نه واضح وي ډېره شوې لکه *das Kopfhaar* چې*Kopf* سر ته او *Haar* وېښتو ته وايي يعنې د سر وېښته. دې سره سره هغه ترکيبي لغاتو ته ځای ورکړل شوی چې ډېر مهم دي لکه *Tagebuch*
هغه لغات چې د دوه لغاتو د يوځای کولو نه جوړ شوي وي خو بله مانا ورکوي، نو بيا ورته ځای ورکړل شوی دی لکه *Teufelsdreck* چې *Teufel* شيطان ته او*Dreck* چټلي ته وايي خو د دې لغت نه مطلب يو شان بوټي دی چې پهٔ پښتو کې ورته [هنجه] وايي.
د پښتو لغاتو په ټاکنه کې ډېره هڅه شوې چې يو جرمني لغت په هغه پښتو لغت واړول يا تشريح شي چې پښتانه پرې په اسانه او سمدلاسه پوهېدی شي. هغه سوچه پښتو لغات چې په قاموسونو کې شته خو پښتانه پرې يا نه پوهيږي او يا پرې ډېر لږ خلك پوهيږي، نو هغه لغات يا ندي ليکل شوي او يا د مروج لغت ترڅنګ ليکل شوي دي. په پښتو کې د خپله ځانه د لغت جوړولو نه ډډه شوې ده، د خپل ځانه د پښتو لغاتو جوړول د ليکوال صلاحيت نه بلکه د پښتو د اکاډمۍ صلاحيت دی.
الماني جملې په سلو کې 99 د الماني ډکشنريو نه Original جملې دي

# د ژباړې هنر

د ژباړې هنر دا نهٔ دی چې لغات ټکي پهٔ ټکي پهٔ بله ژبه واړول شي. يو مطلب چې پهٔ بله ژبه اړول کيږي بايد د هغې اصطلاح نه کار واخيستل شي چې خلك يې استعمالوي او داسې نه چې د لغت لغوي مانا وي. د مثال پهٔ توګه:

*wie geht es Ihnen?* دلته *gehen* د تللو مانا نلري، خو د دې جملې مطلب دا دی چې تاسې څنګه یاست؟ همدا شان څنګه چې مخکې یاده شوه پهٔ جرمني ژبه کې د پخوا (ماضي) دپاره اکثراً [*Perfekt*] استعمالیږي ، پهٔ داسې حال کې چې پهٔ پښتو کې [ *Imperfekt*] استعمالیږي. د مثال پهٔ توګه پهٔ پښتو کې وېل کیږي:
تا څه وویل؟ دا مطلقه ماضي ده، مطلقې ماضي ته پهٔ جرمني کې [ *Imperfekt*] وايي. د ویلو یا *sagen* مطلقه ماضي *sagte* کیږي. خو [تا څه وویل] ته پهٔ جرمني ژبې کې وېل کیږي: *Was hast du gesagt?* . د دې لیکې تحت اللفظي ژباړه پهٔ پښتو ژبې [تا څهٔ وېلي دي] ده.
ځینې لغات دي چې پهٔ پښتو کې ورته معادل لغات شته خو پهٔ جمله کې د دې لغت پهٔ ځای بو بل لغت استعمالیږي، مثال: وږی ( *hungrig*)، تږی ( *durstig*) ، خو زه وږی یا تږی یم ته هېڅ جرمنی نه وايي چې: *Ich bin hungerig/durstig*
په صحیح الماني کې وېل کیږي: [*Ich habe Hunger/Durst*]
د *Hunger* لغوی مانا (ولږه) ده او د *Durst* مانا (تنده) ده، یعنې زه وږی یم ته پهٔآلماني ژبې کې وېل کیږي: [زه ولږه لرم]
د یو مصدر پهٔ زده کولو کې ډېر ضرور دي چې زده شي چې دا مصدر د کوم *Präposition* سره استعمالیږي. مثال: مننه کول ( *danken*)، پهٔ پښتو کې وېل کیږي: زه له تا نه مننه کوم. پهٔآلماني کې وېل کیږي: *Ich danke dir*. د *dir* مانا ده تا ته ، یعنې پهٔ تحت اللفظي توګه [زه تا ته مننه کوم]. بل مثال: ډارېدل ( *Angst haben*). پهٔ پښتو کې وېل کیږي: (زه له تانه ډارېږم) ، پهٔ آلماني کې وېل کیږي: [زه له تا مخکې ډارېږم *ich habe Angst vor dir* ]
اصطلاحات :
د یو لغت اصلي مانا سره کله کله ځینې اصطلاحات هم لیکل شوي دي. د غه اصطلاحات د لغت اصلي مانا سره هېڅ اړه نلري.
مثال: [*die Tasse*] پیالې ته وايي او [*der Schrank*] الماری ته وايي. *[Hast du nicht alle Tassen im Schrank?]* . د دې جملې نه مطلب دا ندی چې ستا ټولې پیالې په الماری کې ندي، بلکه دا یوه اصطلاح ده، مطلب يې دا دی چې ستا ماغزه خراب دي، ته لېونی يې.
د جرمني لغاتو په ژباړه کې نه یوازې یو پښتو انډول لیکل شوی بلکه د دې لغاتو په برخه کې فني تشریحات هم لیکل شوي، د مثال په توګه : د Curry لغت مانا په دې ډول ده : یوه هندی ډېګ مساله چې د کورکمنو، لونګو، دالچیني، سونډو، دنیا، اوري، تورمرچو، او جایفل نه جوړیږي.
بل مثال: د Vogelgrippe ژباړه په دې ډول شوې ده:
د مرغانو والګی، هغه د مرغانو ناروغي چې د $H_5N_1$ ویروس په واسطه انسانانو ته هم تېرېدی شي.

# کورودانی

د دې ډکشنری پهٔ لیکلو کې د زړه له کومې مننه پروفیسر *MacKenzie* نه کوم چې د المان د *Göttingen* پهٔ ښار کې پهٔ *Georg-August-Universität* کې یې د پښتو ژبې د پروفیسر پهٔ حیث کار کاوهٔ. هغه پهٔ ۱۹۹۶ کال کې خپل تقاعد واخیست او خپلې مورنی خاورې [برتانیا] ته بېرته ستون شو. پروفیسر *MacKenzie* پهٔ لومړي قدم کې ماسره دا مرسته وکړه چې پهٔ عربي کمپیوټري پروګرام *Multi-Lingual-Scholar* کې یې پښتو توري زیاد کړل او دا پروګرام یې زما په اختیار کې کېښود. کله چې د ډکشنری یوه برخه ولیکل شوه نو هغه یې ولوستله او اصلاح یې کړله. بل دا: کله چې ما به د ډکشنری پهٔ برخه کې څه پوښتنې درلودلې نو د پروفیسر *MacKenzie* نه به مې مشوره غوښتله.
په دوهم پړاو کې خپل مشر ورور ډاکتر رشیدالدین ملکزي ته کورودانی وایم چې هغه هم د طب ډاکتر دی او د خپلې زیاتې طبي

مشغولتیا سره سره یې نه یوازې دا ډکشنري د یو نیمګړي کمپیوټري پروګرام نه یو موډرن پروګرام ته konvertieren کړله، بلکه تر وروستۍ ورځې پورې یې د دې ډکشنرۍ ټولې کمپیوټري ستونځې حلې کړې، د Layout چارې یې په غاړه واخیستلې او تر ډېره حده موجوده غلطي یې اصلاح کړلې.

# د دې ډکشنرۍ د ځنډ چاپېدو یوه ګټه

سره د دې چې لوستونکي د جرمني - پښتو د ډکشنرۍ د چاپېدو لپاره ډېر کلونه سترګې په لار وو خو د ځنډ چاپېدو یوه ګټه یې دا وه چې څو کاله دمخه په جرمني ژبه کې د لیکدود یو ریفورم مینځ ته راغی چې د هغې په نتیجه کې د (ß) توری د غږ لرونکو تورو نه وروسته چې هغه توري ډېر لنډ لوستل کیږي، په (ss) لیکل کیږي. مثال: پخوا به ځینې لغات په دا شان لیکل کېدل:

Haß یعنې کرکه، daß یعنې چې، Nuß یعنې چارماغ. اوس د (ß) په ځای (ss) لیکل کیږي یعنې (Hass, dass, Nuss). د هغه تورو نه وروسته چې په اوږد تلفظ اوږد لوستل کیږي اوس هم (ß) په پخواني ډول لیکل کیږي. مثال:

Fleiß یعنې خواري یا زیار، groß یا لوی، ich weiß یعنې زه پوهیږم. په دې لغاتو کې ei, 0 په اوږد تلفظ لوستل کیږي.

بل دا چې ځینې ترکیبي لغات چې په مینځ کې یې درې (f) او یا (t) راتلل نو یو توری به ورنه هیسته کړی شو او تش دوه تورو ته به شا په شا اجازه وه.

مثال:

Schiff بېړۍ ، Fahrt تګ . که دا لغت سره یو ځای شي نو Schifffahrt ورنه جوړیږي یعنې په بېړۍ کې تګ. پخوا (fff) ته اجازه نه وه او په بېړۍ کې تګ په دې ډول لیکل کېدو (Schiffahrt)، یعنې یو (f) به ترېنه جبرآ هیسته کړی شوه، خو اوس په نوي لیکدود کې اجازه ده چې (fff) او یا (ttt) ولیکل شي. د (ttt) لپاره مثال: Bett کټ، Tuch دستمال او یا روجایي. پخوا اجازه نه وه چې د کټ روجایي په (ttt) ولیکل شي. اوس لیکل کیږي (Betttuch). نو په دې اساس دا ډکشنري د جرمني ژبې د نوي لیکدود په اصولو لیکل شوې او په جرمني ژبه کې ځینې نوي رامینځ ته شوي تخنیکي او یا طبي لغات هم په نظر کې نیول شوي دي، لکه د مرغانو والګی یا Vogelgrippeلغت چې د دې ډکشنرۍ د ځنډ چاپ ته رسېدو لپاره یو وړوکی تسل دی.

ځینې د دوه لغاتو نه جوړ شوي لغات چې پخوا یو ځای لیکل کېدل اوس بېل بېل لیکل کیږي او د یو واحد لغت په حیث له مینځه تللي دي، مثال: liegenbleiben یعنې پروت پاتې کېدل. دا لغت اوس بېل بېل یعنې liegen bleiben په توګه لیکل کیږي، د یو واحد لغت حیثیت یې له لاسه ورکړی او په جرمني DUDEN کې ندی لیکل شوی. ما پخپل قاموس کې دا لغت پرېښودلی دی ځکه چې لیکل یې له یوې خوا د غلطۍ په حیث نه شمېرل کیږي او له بلې خوا ډېر لغات په دې ډکشنرۍ کې له مینځه ځي چې موجودیت یې لوستونکو ته د اسانتیا مانا لري.

# ممکنې تېروتنې

لوستونکي به د دې ډکشنرۍ د یو څو پاڼو د لیدلو نه وروسته دې ته متوجه شي چې د دې ډکشنرۍ په لیکلو کې د حده ډېر زیار وېستل شوی دی. هر پښتو یا الماني لغت چې پرې شك راځې چې دا لغت به په ریښتیا موجود وي او که نه نو د لغت شا ته منبع یې لیکل شوېده. هر لغت چې د الماني په DUDEN کې نشته نو د لغت شاته یې د منبعې په حیث WAHRIG او یا PONS لیکل شویدي. د پښتو منابعو په حیث افغان قاموس، پښتو- پښتو تشریحي قاموس او داسې نور قاموسونه یاد شویدي. خو دې سره سره په دې کې شك نشته چې په دې ډکشنرۍ کې ځینې غلطۍ شته چې لیکوال ته د لغت د اصلاح کولو هیڅ امکانات نه وو. دا هغه

لغات دي چې د حیواناتو، د حشرو، د بوټو، د ونو او یا د ګلانو نومونه دي. د داسې لغاتو د پیدا کولو لپاره ما د لاندینۍ لارې نه استفاده کړېده : لومړی د جرمني ـ انګلیسي په قاموس کې د انګلیسي لغت پیدا کول. بیا د انګلیسي ـ عربي په قاموس کې د عربي لغت پیدا کول. د عربي لغت لپاره پښتو لغت یا په عربي ـ پښتو (افغان قاموس) کې لټول او یا په فرهنګ عمید کې ورته فارسي لغت پیدا کول. بیا د فارسي لغت لپاره په مختلفو لارو پښتو لغت لټول. کله چې پښتو لغت ورته پیدا شو نو د دې لغت د تصدیق او د مترادف پیدا کولو لپاره دا لغت بیا په پښتو ـ پښتو قاموس کې کتل. د بده مرغه په پای کې د پښتو- پښتو قاموس به دا لغت یا بالکل په بله مانا تشریح کړی وي او یا به ورته یو مترادف لغت لیکل شوی وي چې هغه به مطلق بل شی وي. نو د لیکوال ټوله خواري به بې ځایه تمامه شوه. نو د دې ستونځو په وجه زه د لوستونکو نه بښنه غواړم چې د داسې لغاتو لپاره مې د چاپ تر ورځې پورې ونکړی شول چې یوه ګټوره منبع تر لاسه کړم

## Vorwort

Die Motivation, ein Wörterbuch Deutsch–Paschto zu verfassen, verspürte ich bereits im Jahr 1965, als ich als Schüler der Amani-Schule in Kabul, damals „Nedjat-Schule“ genannt, beim Erlernen der deutschen Sprache in Afghanistan kein derartiges Wörterbuch vorfand. Dieser von vielen Afghanen geteilte Wunsch wäre beinahe in Erfüllung gegangen, als ich im Jahr 1975 das Große Sprachdiplom der deutschen Sprache und im Jahr 1976 die Qualifikation als Deutschlehrer am Goethe-Institut München erwarb. Wenig später entschied ich mich für ein Medizinstudium, das ich 1986 an der Ludwig-Maximilians-Universität München abschloss.

Als 1988 meine medizinische Doktorarbeit druckreif war, entschloss ich mich dann engültig zur Erarbeitung eines Wörterbuches Deutsch–Paschto. Als Vorlage benutzte ich den DUDEN 10, Bedeutungswörterbuch. Die Übersetzung war innerhalb eines Jahres komplett fertig. Beim Erfassen des Wörterbuches stieß ich dann aber auf ungeahnte Schwierigkeiten. Es gab zu dieser Zeit in Deutschland weder eine Paschto-Schreibmaschine noch eine Paschto-Software für einen PC. Die Drucklegung des Wörterbuches ließ also auf sich warten. 1990 informierte mich Prof. MacKenzie, der damals an der Universität Göttingen lehrte, dass es in Kalifornien ein arabisches Schreibprogramm namens Multilingual Scholar gebe, mit dem man auch Paschto schreiben könne. Obwohl ich mittlerweile im Westerwald als Landarzt mit teilweise 24 Stunden Bereitschaftsdienst arbeitete, schrieb ich mit Hilfe dieses Programmes das Wörterbuch fertig. Prof. MacKenzie schlug vor, ein wenig mit dem Druck zu warten, da es bald eine Möglichkeit geben würde, es mit einem Laserdrucker anstatt mit dem Nadeldrucker auszudrucken. Für den Laserdrucker waren allerdings eine Programmadaptation sowie ein Dongle erforderlich. Aus diesem Grund besuchte mich Prof. MacKenzie zu Hause, nahm die erforderliche Programmadaptation vor und überließ mir seinen Dongle. Prof. MacKenzie gratulierte mir zum baldigen Erscheinen des Wörterbuches und verabschiedete sich nach Großbritannien. Kurz nach seinem Abschied stellte ich fest, dass der Buchstabe E fehlerhaft war. Prof. MacKenzie versprach, den Fehler so schnell wie möglich zu korrigieren. Zu diesem Zweck benötigte er wieder den Dongle. Kaum hatte Prof. MacKenzie mit der Korrektur angefangen, wurde er schwer krank und infolge seines Leidens verstarb er bald darauf in Großbritannien. Ohne Dongle konnte ich mein Wörterbuch weder mit einem Nadeldrucker noch mit einem Laserdrucker ausdrucken. Ein solcher war selbst über das Softwarehaus in Kalifornien nicht mehr zu beziehen, da das Programm nicht mehr vertrieben wurde. Es vergingen wieder mehrere Jahre, bis sich die Möglichkeit einer Konvertierung in WordPerfekt 5 ergab. Diese Konvertierung war leider nicht so effektiv wie erwünscht, sodass ich warten musste, bis 2005 eine Konvertierung in MS-Word möglich wurde. Die größte Hilfe in diesem Zusammenhang erhielt ich von meinem Bruder, Dr. Raschid Malakzay, der ebenso wie ich Arzt ist.

Nach jeder Konvertierung habe ich versucht, den Umfang des Wörterbuches zu vergrößern, indem ich Wörter aus verschiedenen Lexika (siehe Bibliographie), vor allem aus dem DUDEN-Universalwörterbuch, hinzufügte. Das letzte Wort, „Vogelgrippe“, wurde 2007 aufgenommen.

Mittlerweile war in Deutschland allerdings eine Rechtschreibreform durchgeführt worden. Die neue deutsche Rechtschreibung wird in diesem Wörterbuch weitestgehend berücksichtigt. Eine Ausnahme bilden manche Adverbien wie z.B. „abend“, die der neue DUDEN nicht mehr anführt, sowie früher zusammengeschriebenen Wörter wie z.B. „liegenbleiben“. Dieses Wort wird nun getrennt „liegen bleiben“ geschrieben und ist im neuen DUDEN ebenfalls nicht mehr als eigener Eintrag zu finden. In meinem Wörterbuch ist „abend“ weiterhin als eigenständiges Adverb erfasst. Ebenso habe ich „liegenbleiben“ in der ursprünglichen Form belassen.

Bebra, im Februar 2009 Akram Malakzay

## Abkürzungen لنډونه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| *Adj.* | *Adjektiv* | صفت | *jmds.* | *jemandes* | د کوم چا، د ېو چا |
| *Adv.* | *Adverb* | قيد | *Konj.* | *Konjunktion* | د ربط ټکی، د وصلولو ټکی |
| *Akk.* | *Akkusativ* | مفعولي حالت | *Nom.* | *Nominativ* | فاعلي حالت |
| *Attr.* | *Attribut* | مميزه صفت | *od.* | *oder* | يا |
| *Dat.* | *Dativ* | غېرصرېح مفعولي حالت | *Part.* | *Partizip* | اسم الفاعل، اسم المفعول |
| *Gen.* | *Genitiv* | اضافي حالت، مضاف اليه حالت | *Plur.* | *Plural* | جمع |
| *idiom.* | *idiomatisch* | اصطلاحي | *Präp.* | *Präposition* | نسبتي کلمه |
| *Interj.* | *Interjektion* | د ندا (حيرانتيا) حرف | *s.* | *siehe* | وګوره |
| *itr.* | *intransitiv* | لازمي (فعل) | *Sing.* | *Singular* | مفرد |
| *jmd.* | *jemand* | کوم څوك، کوم چا | *Sprichw.* | *Sprichwort* | متل |
| *jmdm.* | *jemandem* | ېوچاته، کوم چاته | *tr.* | *transitiv* | متعدي (فعل) |
| *jmdn.* | *jemanden* | کوم څوك، کوم چا | *ugs.* | *umgangssprachlich* | اصطلاحي، غيرادبي |

## Bibliographie


I. Deutsche einsprachige Lexika

DUDEN 10, Bedeutungswörterbuch, Dudenverlag, Mannheim u.a. 1985
Der GROSSE DUDEN 2, Stilwörterbuch, Dudenverlag, Mannheim u.a. 1970
Der GROSSE DUDEN 5, Fremdwörterbuch, Dudenverlag, Mannheim u.a. 1974
Der GROSSE DUDEN 3, Bildwörterbuch, Dudenverlag, Mannheim u.a. 1958
DUDEN, Deutsches Universalwörterbuch, 4. Auflage, Dudenverlag, Mannheim u.a. 2001
Wahrig, Deutsches Wörterbuch, Bertelsmann Lexikon-Verlag, Gütersloh u.a. 1974
Wörterbuch der Deutschen Gegenwartssprache, Bd. 1–2, Akademie-Verlag, Berlin 1984
Brockhaus-Wahrig, Deutsches Wörterbuch, Bd. 1–6, Deutsche Verlagsanstalt, Stuttgart 1983
Gisela Wohlgemuth-Berglund, Wort für Wort, 1. Auflage, Max Hueber Verlag, München 1969
Wolf Friedrich, Moderne Deutsche Idiomatik, 2. Auflage, Max Hueber Verlag, Ismaning 1976

II. Medizinische Lexika

Pschyrembel, Klinisches Wörterbuch, Walter de Gruyter Verlag, Berlin 1986
Roche Lexikon Medizin, 3. Auflage, Urban & Schwarzenberg, München, Wien 1993

III. Wörterbücher Englisch–Paschto, Paschto–Englisch

English-Pushtu Dictionary, Pushtu Akademy, Kabul 1975
H.G. Raverty, Dictionary of the Puk’hto, Pus’hto, or Language of the Afghans, London 1860
Henry Walter Bellew, Dictionary of the Pukkhto or Pukhsto, Language, London 1867

IV. Wörterbücher Deutsch–Englisch, Englisch–Deutsch

PONS, Deutsch–Englisch Globalwörterbuch, Klett Verlag, Stuttgart 1984
PONS, Englisch–Deutsch Globalwörterbuch, Klett Verlag, Stuttgart 1985

V. Wörterbuch Englisch–Arabisch

Al-Mawrid, A Modern English-Arabic Dictionary, Beirut 1994

VI. Quelle botanischer Wörter

Zeitschrift „Afghanistan Journal“, Heft Nr. 1, 1979, Akademische Druck- und Verlagsanstalt Graz

VII. Wörterbücher Paschto–Paschto, Paschto–Farsi, Farsi–Paschto, Paschto–Urdu

پښتو- پښتو تشریحي قاموس، د افغانستان د علومو اکاډمي ، د لومړي نه تر څلورم ټوك پورې، کابل 1987-1979
پښتو قاموس، لومړی او دوهم ټوك، د پښتو ټولنې د لغاتو څانګه، کابل (۱۳۳۳-۱۳۳۰)
افغان قاموس، د پښتو ټولنې د لغاتو څانګه، د لومړي نه تر دریم ټوك پورې، کابل (۱۳۳۶- ۱۳۳۵)
دریاب، پښتو- پښتو : قلندر مومند او فرید صحرایي، پېښور، (1994)
پښتو - پښتو سیند، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، پېښور (2006)
پښتو ژبه، پښتو اکېډمي - پېښور یونیورسټي، پېښور، د لومړي توك نه تر لسم ټوکه پورې (1990-1970)
پښتو سیند ، لیکونکی محمد ګل مهمند، لومړی ټوك ، کابل 1316
ظفراللغات ، پښتو - اردو، میا بهادرا شاه ظفر کاکاخېل، یونیورسټي بك اجنسي، خېبر بازار، پېښور

IX. Wörterbuch Persisch–Persisch

فرهنگ عمید، مؤسسه انتشارات امیر کبیر، تهران، جلد اول و دوم (۱۳۶۲-۱۳۶۰)

X. Wörterbücher Englisch–Persisch, Persisch–Englisch

S. Haim, The Larger English–Persian Dictionary, Farhang-e Moaser Publishing Co. 1951, Tehran
S. Haim, The Larger Persian–English Dictionary, Farhang-e Moaser Publishing Co. 1991, Tehran

# A

**A** د الفتورو لومړنی توری (چې د پښتو الف سره معادل دی)
*das A und O* د یو شي مهمه برخه، اصلي برخه، د مرکز ټکی، هستوي برخه (اصطلاح)
*von A bis Z* د (الف) نه تر (ی) پورې، بې د استثنأ، ټول او هرڅهٔ (اصطلاح)
*Wer A sagt, muss auch B sagen.* څوك چې یو شی شروع کوي نو باید تر پایه یې ورسوي، که څهٔ هم ورته سخته وي
**Aal**, der; -e مارماهي، مارمهی، مارموهی، مارکب
Aale fangen مارکبان نیول
*glatt wie ein A. sein* لکه مارماهي غوندې ښوی اوسېدل
*sich drehen und winden wie ein A* د ډېرې چالاکۍ پهٔ وجه د مارماهي پهٔ شان ځان تاو راتاوول
**aalglatt** *(Adj.)* ۱- ډېر ښوی لکه د کب په شان ۲- چې د چا لاس ته ورنه شي او وکړی شي چې د هر سخت حالت نه ځان په چل او مهارت بچ کړي
jmdm a. ausweichen د یوچا نه په چل ځان بچول
**Aas,** das; -e ۱- د مردارشوي حیوان لاش، جسم ۲- د مردار شوي حیوان غوښه
*kein A.* هیڅ څوك نه , بني بشر هم نه (اصطلاح)
*kein A. ist gekommen.* هیڅ څوك رانغی
*Kein A. war da. Ich war ganz allein.* هیڅ څوك حاضر نهٔ وو، زهٔ بالکل یواځې وم
**Aasblume**, die; -n *(Caralluma edulis)* پونی، پوشان بوټی دی چې د مردار لاش پهٔ شان بوي کوي
**Aasgeier**, der; - کجیر، هغه ټپوس چې مردار لاش یې خوراك دی
**ạb** *(Präp. mit Dat. + Akk./Adv)* ۱- لهٔ، نه، سر د... ۲- سر لهٔ ... نه، سر د ... ۳ - لیرې، هیسته، ۴ - د یو ځای نه لیرې
I. *(Präp. mit Dat.)* 1. ab erstem/ersten Mai د می د مېاشتې د لومړۍ نېټې نه وروسته
a. kommendem/kommenden Montag د راتلونکې دوشنبې نه وروسته
a. heute/a. morgen/a. sofort سر لهٔ نن نه/ سر لهٔ سبا نه/ سر لهٔ همدا اوس نه
a. dem 35. Lebensjahr د ۳۵ کلنۍ نه وروسته
Jugendliche a. 18 Jahren د ۱۸ کلن نه پورته ځوانان
2. frei a. Werk د کمپنۍ (د ځای) نه ازاد (بې ټکسه)
a. unserem Lager زموږ د قرارگاه نه وروسته
II. *(Adj.)* nicht sehr weit a. vom Weg liegen د لارې نه ډېر لیرې پروت نه اوسېدل
zwei Kilometer a. von dieser Stelle د دې ځای نه دوه کیلومتره لیرې
*ab und zu/ab und an (idiom)* کله کله، کله ناکله (اصطلاح)
Ab und zu besucht er uns. هغه کله ناکله زموږ لیدو ته راځي
Er kommt a. und an, um nach dem Rechten zu sehen. هغه کله ناکله راځي چې وگوري چې هرڅهٔ ټیك دي او که نهٔ
*ab damit* هیسته یې کړه، ورك یې کړه (اصطلاح)
**ạbänderbar** *(Adj.)* چې ورته بدلون ورکړل شي، متغیر
abänderbare Entscheidungen هغه فیصلې چې تغیر ورته ورکول کېدی شي
**ạbändern**, er änderte ab, hat abgeändert *(tr.)* یو شي ته تغیر ورکول
eine Verfassung a. اساسي قانون ته تغیر ورکول
**ạbarbeiten,** er arbeitete ab, hat abgearbeitet *(tr.)* پهٔ کار کولو گټل، د یوشي پهٔ بدل کې کارکول
Schulden a. د یو چا د پور پهٔ بدل کې ورته کار کول
**ạbartig** *(Adj.)* غیرنورمال، غیر عادي (خصوصاً جنسي)
eine abartige Neigung haben غیرنورمال جنسي تماېلات درلودل
auf etwas a. reagieren د یوشي پهٔ مقابل کې عجیب وغریب عکس العمل ښودل
**ạbatmen,** er atmete ab, hat abgeatmet *(tr.)* د تنفس د لارې وېستل، د تنفس د لارې خارجول
Kohlendioxyd a. کاربن دای‌اکساېد د تنفس د لارې وېستل
**ạbbacken**, er backte ab, hat abgebackt *(tr.)* یو شی پخول، په پخولو تیارول
das Brot bei mittlerer Hitze a. ډوډۍ په متوسط حرارت پخول
**ạbbaggern**, er baggerte ab, hat abgebaggert *(tr.)* یو شی په بلدوزر هیسته کول، د بلدوزر په مرسته سمول
**Ạbbau,** der, *kein Plur.* ۱- دانه دانه کوونه، ورانونه ۲- د ډېرو برخو نه د جوړشوي شي بېرته تجزیه کوونه ۳- ټیټوونه، کموونه ۴- استخراجوونه ۵ - خوارېدنه، کمزورې کېدنه
1. der A. von Gerüsten د خوازو دانه دانه کوونه
2. der A. von Privilegien د خاصو امتیازاتو کموونه
3. ein Abbau von Beamten د مأمورینو د شمېر کموونه
4. der A. von Alkohol im Blut په وینه کې د الکولو تجزیه کېدنه
5. der A. von Kohle د سکرو استخراجوونه
6. der körperliche A. im Alter په زړښت کې جسمي خوارېدنه
**ạbbaubar** *(Adj.)* چې تجزیه شي، تجزیه کېدونکی
schwer abbaubare Stoffe په سختۍ تجزیه کېدونکي مواد
**ạbbauen**, er baute ab, hat abgebaut *(tr.)* لهٔ منځه وړل، کمول، ټیټول ۲- استخراجول
1. Preise a. نرخونه ټیټول
Zölle a. د گمرك محصول لهٔ منځه وړل

2. Kohle a. سکارهٔ استخراجول

**ạbbeißen**, er biss ab, hat abgebissen *(tr)* په غاښو شکلول، په غاښو غوڅول، په چیچلو شکول

den Faden a. پهٔ غاښو تار شکول

einen Bissen vom Brot a.د ډوډۍ یوه مړۍ پهٔ غاښونو غوڅول

**ạbbekommen**, er bekam ab, hat abbekommen *(tr.)* ۱- لاس ته راوړل، یو چاته یو څهٔ رسېدل ۲- پهٔ یو شي باندي لګېدل، ژوبلېدل، تاواني کېدل ۳- د یوشي نه هیسته کول، لیري کول

1. Wir haben bei der Verteilung unseren Teil a. پهٔ وېش کي مونږ ته خپله برخه ورسېدله

2. einen Schlag a. پهٔ یو ګوزار لګېدل

3. Der Wagen hat nichts a. موټر هیڅ تاواني نشو

4. die Farbe nicht von den Fingern a. د ګوتو نـه رنګ هیسته کولی نه شول

**ạbberufen**, er berief ab, hat abberufen *(tr.)* د خپل د کار ځای نه یو څوك بېرته راغوښتل [چي هغه یا هسیته کیږي او یا بل ځای ته لیږل کیږي]

einen Botschafter von seinem Posten a. یو سفیر د خپلي چوکۍ نه بېرته راغوښتل

**ạbbestellen**, er bestellte ab, hat abbestellt *(tr.)* یو فرمایش پهٔ ځټ ګرځول، د یو غوښتل شوي شي اردر په ځټ ګرځول

eine Ware a. د یو فرمایش شوي مال فرمایش پهٔ ځټ ګرځول

**ạbbetteln**, er bettelte ab, hat abbettelt *(tr.)* د یو چا نه یو شی په سـوال کولو لاس ته راوړل

der Mutter Geld für ein Eis a. د مـور نه د یو ایسکریم لپاره په سوال کولو پیسي لاس ته راوړل

**ạbbezahlen**, er bezahlte ab, hat abbezahlt *(tr.)* پهٔ قسط کراره کراره قرض اخیستل شوي پیسي بېرته ورکول

seine Schulden in Raten a. د خپلو قرضونو پیسي پهٔ قسط ورکول او خلاصول یې

**ạbbiegen**, er bog ab, hat/ist abgebogen *(itr.)* تاوېدل، پهٔ یوه ډډه ګرځېدل، موټر یا بایسکل په ډډه تاوول

Er ist (nach) links abgebogen. هغه کیڼ لاس ته تاو شو

**Abbild**, das; -er د یوچا یا د یوشي واقعیت ته ډېر نږدې تصویر

**ạbbilden**, er bildete ab, hat abgebildet *(tr.)* رسمول، عکس لګول، عکس چاپول (لکه په اخبار یا مجله کي)

Auf der Ansichtskarte war eine Burg abgebildet. پهٔ پوست کارټ باندي د یوې کلا (قلعه) عکس و

Der Sportler ist in der Zeitung abgebildet.د سپورتمین عکس پهٔ اخبار کي چاپ دی

**Abbildung,** die; -en چاپ شوی عکس، رسم، انځور

**ạbbinden,** er band ab, hat abgebunden *(tr.)* ۱- خوشې کول، لیري کول، هیسته کول۲- تړل

1. Darf ich mir die Krawatte a.? اجازه ده چي زهٔ خپلـه نکټائي لهٔ غاړي وباسم؟

2. Er band dem Verletzten den Arm mit einem Taschentuch ab. د ټپي مټ هغهٔ پهٔ یو دستمال وتړو

**ạbbitten,** er bat ab, hat abgebeten *(tr.)* له یو چا نه هغه ته د یو تاوان رسولو په وجه بښنه غوښتل

**ạbblasen,** er bläst ab, blies ab, hat abgeblasen *(tr.)* د یو جوړشوي پروګرام بېرته هـیسته کـول ( یوترتیب شوی محفل بېرته ناچلول یا باطلول)

ein Spiel a. یوه لوبه هیسته کول، کېدلو ته یي نه پرېښودل

**ạbblassen**, es blasste ab, ist abgeblasst *(itr.)* د یـو شي رنـګ کمېدل، رنـګ لـه لاسه ورکول، کم رنګېدل

die Farben blassen ab رنګونه کم رنګي کیږي

*Erinnerungen blassen ab.* خاطرې هیرېږي

**ạbblättern,** es blätterte ab, ist abgeblättert *(itr.)* رژېدل، لیري کېدل، هیسته کېدل، رالوېدل

Der Putz blättert von der Decke ab. د چت نه اخېړ رژیږي، اخېړ د چت نه بېلیږي

**ạbbleiben**, er blieb ab, ist abgeblieben *(itr.)* په یو نا معلوم ځای کي پاتي کېدل

Ich weiß gar nicht, wo er abgeblieben ist. زهٔ هیڅ نه پوهیږم چي هغه چېرته پاتي شوی دی

**ạbbleichen,** es bleichte ab, ist abgebleicht *(itr.)* د یو شي رنګ کمېدل، کمرنګه کـېـدل

die Farbe blleicht ab رنګ کمیږي، رنګ کمزوری کیږي

**Ạbblendlicht,** das; *kein Plur.* د موټر عادي څراغ (فول یا د لیرې مصافې څراغ ته *Fernlicht* او د ولاړ موټر خفیف چراغ ته *Standlicht* وایي)

**ạbblitzen**, er blitzte ab, ist abgeblitzt *(itr.)*،نهٔ منل کېدل ردېدل، منفي ځواب ورکول

bei jmdm mit einer Bitte a. د یوچا پهٔ حضور کي یوه هیله ردېدل، نهٔ منل کېدل

Das Mädchen lässt alle a.نجلۍ هغه ټول (هلکان چي ورته کوښښ کوي) ردوي، چاته نه حاضریږي

**ạbblocken,** er blockte ab, hat abgeblockt *(tr.)* په یـو شي بندیځ لګـول، یـو شی بندول، د یو شي مخه نیول

Fragen a. د پوښتنو مخه نیول، پوښتني بندول

**ạbblühen,** er blühte ab, hat/ist abgeblüht *(itr.)* یو ګل د غوړېدو نه وروسته بېرته مړاوي کېدل

Die Rosen haben/sind abgeblüht. ګلاب د غوړېدو نه وروسته بېرته مړاوي شوي دي

**ạbbrauchen,** er brauchte ab, hat abgebraucht *(tr.)* د ډېري استـفادې په وجـه له کاره وېستل، زړول، خرابول

Er braucht seine Kleidung rasch ab. هغه خپلي جامې ژر له کاره وباسي

**ạbbrausen,** er brauste ab, hat abgebraust *(tr.)* ۱-شاور کول، په شاور پرېمینځل ۲- په لوړ غږ باندې د یو ځای نه په چټکۍ تېرېدل

1. Ich habe das Kind abgebraust. ما ماشوم په شاور پرېمینځو

2. Das Motorrad brauste ab.موټرسایکل په لوړ غږ په چټکۍ تېر شو